# د مسلکی ژبی کورسونو کی د ګډوونکو لپاره
# د کورس د بیا پیل په اړه معلومات

د مسلکی ژبی کورسونو کی ګرانو ښځینه او نارینه ګډوونکو!

موږ ټول په تیره ۱۸ میاشتو کی د کورونا وبا له امله ډېرڅه نه صرف نظر وکړو، څو د نوموړی ناروغی څخه خپل ځانونه خوندی وساتو او د ویروس د لا خپرېدو څخه مخنیوی وکړو . ستاسو لپاره دا معنی وه ، د مثال په توګه چی ستاسو مسلکی ژبی کورس نشو کیداې چی دوامداره توګه یا آنلاین ترسره شي.

له بده مرغه د ناروغي وبا لاهم پای ته نه ده رسېدلې او موږ باید نور هم محتاط اوسو.له همدې امله موږ غواړو تاسو ته د کورونا واکسین په اړه معلومات درکړو. واکسین کولو سره په کورونا ویروس اخته کیدو او نورو ته یې د خپرېدو خطر کموي. سربېره پردې واکسین کول د جدي ناروغیو په دوران کې ساتنه کوي.هرڅومره چې ډېر خلک واکسین کیږي همغومره د هغه خلکو په غوره توګه محافظت او ساتنه کیږي څوک چې ځان واکسین کولې نشي. که تاسو د کورونا ویروس او کورونا واکسین په اړه نورو معلوماتو ته اړتیا لرئ دا تاسې په ۲۳ ژبو کې د ادغام د فدرال مسولینو په ویب پاڼه کې موندلې شي:.[https://www.integrationsbeauftragte.de/ib-de/staatsministerin/corona](https://www.integrationsbeauftragte.de/ib-de/staatsministerin/corona)

په دی ویب پاڼه [https://www.zusammengegencorona.de/](https://www.zusammengegencorona.de/) کې د کورونا ویروس، د واکسین کولو او د واکسینونو د ډولونو په اړه په الماني، عربي، انګلیسي، روسي، هسپانوي او ترکي ژبو معلومات راټول شوی دي.

د کورونا واکسین کولو سره ، کوم چې تاسو په اسانی سره د خپلې کورنۍ ډاکټر سره تنظیم یا د واکسین کولو پورټل یا ویب پاڼې له لارې آنلاین بک او ریزرف کولی شي، تاسو د خپل ځان ، د کورنۍ او د خپل شاوخوا خلک خوندي کړئ؛ دا د مسلکي ژبې کورسونو کې هم صدق کوي.

د حفظ الصحې او محافظت ځانګړي مقررات لاهم هلته یعنې په کورسونو پلې کیږي ، ترڅو د سارى یا خپرېدو خطر نور هم کم شي . دا مقررات کولی شي په انفرادي فدرالي ایالتونو کې توپیر ولري. د کورس چمتوکونکي ، څوک چې د مسلکی ژبو کورسونه ترسره کوی باید مقررات مراعات کړي.

له همدې امله په ۲۰۲۰ کال کې معرفي شوي نوي درسي موډلونه (د مثال په توګه آنلاین) به په هر حالت کې د ۲۰۲۱ پای پورې به ترسره شي . په دی لیک تاسو د درسي موډلونو په اړه معلومات موندل شي سربېره پردی تاسو به د نورو مقرراتو په اړه هم معلومات ومومئ ، د مثال په توګه د ستاسو د سفر لګښتونو په اړه.


په لاندی کی موږ تاسو ته بیا د کورس موډولونو په اړه نور معلومات درکوو:

## I. درسونه

### ۱. د مسلکی ژبی کورسونه د کورونا وبا په شرایطو کې څنګه ترسره کیږي ؟

د انفیکشن او خپریدوخطر کمولو لپاره د مهاجرینو فدرالي اداري پنځه تدریسي موډلونه را مینځ ته کړي ، په کوم کې چې د برخه اخیستونکو ترمینځ لږترلږه ۱،۵ مېتره فاصله مراعات شي. د کورس چمتوکونکي پرېکړه کوی چې دوی به د کوم موډول پر بنسټ په راتلونکي کې درس ترسره شي، او ستاسو سره د ستاسو د ګډون په اړه او د کوم وخت نه به تاسې بیا درس ولرئ، خبری وکړي.

لاندي تدريسي موډلونه شتون لري :




| Deutsch | Paschtu |
|---|---|
| **Modelle für Integrations- & Berufs-sprachkurse unter pandemiegerech-ten Bedingungen** | **د پراخه وبا ناروغی مناسبو شرايطو لاندې د ادغام کورسونو او مسلکي ژبې کورسونو موډلونه** |
| 1. **Präsenzunterricht in ausreichend großen Räumlichkeiten**<br>• Präsenzunterricht für alle Teilneh-menden unter Wahrung der Ab-standsregeln. | ۱. **په کافی انداره غټو کوټو کی حاضر مخامخ درسونه**<br>• د ټولو ګډونوالو لپاره مخامخ درسونه د فاصلی اصول د ساتلو پر مهال . |
| 2. **Virtuelles Klassenzimmer**<br>• Unterricht per Videokonferenz<br>• Geeignete Softwaremöglichkeiten als lernförderliche Tools | ۲. **مجازی ټولګی**<br>• درسونه د ویډیو کنفرانس له لارې<br>• مناسب د سافټ ویرامکانات د زده کړې ملاتړ توکی په توګه |
| 3. **Präsenzunterricht mit Live-Übertragung in zweiten Kursraum**<br>• 2 Gruppen in unterschiedlichen Räumen mit Videoübertragung<br>• Wechselnder Präsenzunterricht alle 1-2 Unterrichtseinheiten | ۳ . **د دوهم کورس په خونه کې د ژوندی خپرونو سره مخامخ درس ورکول**<br>• دوه ګروپونه په مختلفو خونوکی د ویډیولیږد سره<br>• دهر ۱-۲ ښوونی واحدونو ته د مخامخ درسونو بدیل |

| | |
|---|---|
| | ورکول |
| **4. Präsenzunterricht mit zugeschaltetem virtuellem Klassenzimmer**<br>• Unterricht in 2 Gruppen (50% Präsenzunterricht, 50% virtuelles Klassenzimmer)<br>• Täglicher Wechsel der Gruppen | **۴. د وصل شوی مجازی ټولګي سره مخامخ درسونه**<br>• په دوه ګروپونو کی درسونه ( ۵۰٪حاضر مخامخ ټولګی ۵۰٪ مجازی ټولګی )<br>• د ګروپونو ورځنی بدلون |
| **5. Präsenzunterricht mit einer Lehrkraft in zwei Kursräumen**<br>• 2 Gruppen in benachbarten Räumen<br>• Gruppen lernen je 50% der Unterrichtszeit abwechselnd im Präsenzunterricht oder eigenständig | **۵. په دوه کورس خونو کی د یو ښوونکی سره مخامخ درسونه**<br>• دوه ګروپونه په ګاونډي نږدې خونو کې<br>• ګروپونه د درسی وخت ۵۰٪ په متناسب ډول درسونه په مخامخ ډول یا په خپلواک ډول زده کړي کوی |

## موډول ۱ : په کافي اندازه غټو خونو کې حضوري درسونه

د کورس ټولو برخه والو لپاره ، ستاسو درسونه د ګډونوالو ترمنځ لږترلږه ۱،۵ متره فاصله سره ۱۰۰٪ مخامخ ترسره کیږي .

## موډل ۲ : مجازي ټولګی خونه

درسونه د ویډیو کنفرانس په توګه په مجازی ټولګی کې د ټولو کورس ګډونوالو لپاره په بشپړ ډول صورت نیسي . ستاسو د کورس چمتوکونکي به داډ ترلاسه کړی چې تاسو برخه اخیستو ته چمتو یاست او داچې تاسو اړین تخنیکي تجهیزات لرئ . په دی اړه د درسونو پیل کیدو د مخه د اړوند موضوعات په منظور د چمتو کیدو یوه غونډه جوړیږی . په مجازي ټولګی کې ورځنی د ۴ تدریسي واحدونو پوری محدوده ده . له همدی امله ، کیداي شی ستاسو کورس تر ډیر وخت دوام وکړي.

## موډل ۳ : حضوري درس د کورس په دوهمه خونه کی د ژوندی یا لایف خپروني سره

د کورس ګروپ په دوه مختلف کورس خونو باندی ویشل شوی دی ، په دواړو خونو کی لږترلږه ۱،۵ مېتره فاصله د ګډونوالو ترمنځ ساتل کیږي . د کورس په دواړو خونو کې ، د ښوونکی او برخه والو نه د کیمرې په واسطه فلم اخیستل کیږي . د غږ په ګډون اخیستل شوی فلم به په ورته وخت کې د نورو کورس په خونه کې نشر کیږي . په دی ډول ګډونوال کولي شی له دواړو خونو څخه یو بل سره او ښوونکي سره خبری وکړی او اړیکه ټینګه کړی . په وروستي کی د ۹۰ دقیقو وروسته یو بدلون شتون لری ، او په خپله ښوونکي د بل ګروپ سره په دوهمه خونه کې درس ورکوي.

## موډل ۴ : په مجازي توګه وصل شوي ټولګی سره حضوري درس

کورس په دوه ګروپونو ویشل کیږی دواړه قسمی ګروپونه معمولاً هر ورځ د ویډیو کنفرانس له لاری په مجازی ټولګی کی د ټولګی درس او ښوونی ترمنځ تبادله صورت مومی . د کورس په خونه کی د ټولو برخه اخیستونکو تر منځ لږترلږه 1,5 متره فاصله په نظر کی نیول کیږی . ښوونکی په ټولګي کې یوه فرعی ګروپ او بل فرعي ګروپ په ورته وخت کې د ویډیوکنفرانس له لارې تدریس کوی . هغه ګډون کونکي چې په هغه ورځ په ټولګي کی په شخصي ډول حاضر نه وو ، د مثال په توګه کولی شی اړوند معلومات هلته د فلم پردی له لاری وګوری . په ټولګي او ویډیو کنفرانس کې ټول ګډون کونکي په ورته وخت کې په ټولګي کې فعاله برخه اخلي .

تاسو کولی شئ د هر ځای څخه ویډیوکنفرانس کې برخه واخلئ چیری چې تخنیکي غوښتنې شتون ولري . ( د مثال په توګه د کور څخه یا د یوی بلی خونی څخه ) . که چیرې کوم ځانګړی دلیل شتون ولري او تاسو نشئ کولی په پښېړ ډول ته ټولګي ته راشي ( د مثال په ډول ځکه چې تاسو د خطر ګروپ سره تړاو لرئ ) ، تاسو کولی شئ یوازې د استثنا په توګه تل د ویډیوکنفرانس له لارې برخه واخئ . دا درسي ماډل په ورځ کې د 4 تدریسي واحدونو پورې محدود دي. ستاسو کورس له دی امله ممکن اوږد شي .

### موډول ۵: په دوه کورس خونو کې د یوه ښوونکي سره حضوري درسونه

د کورس ګروپ په دوه ټاکل شوي فرعي ډلو او نږدې دوه مختلف کورس خونو کې تدریس کیږي . لږ تر لږه ۱،۵متره فاصله د ټولو ګډون کونکو تر مینځ ساتل کیږي . یوه فرعي ډله د ښوونکی سره درس پیل کوي ، بله فرعي ډله د ورکړل شوی مهال ویش سره سم زده کوي . ښوونکی هر ۴۵ څخه تر ۹۰ دقیقو پوری ځان بل یو فرعي ګروپ ته اړوي. هره فرعي ډ له هره ورځ له خپل درس نیمایي وخت د ښوونکی سره لري.

**۲ . ایا زه اوس هم کولی شم په آنلاین زدکړو یا Online- Tutorium کی برخه واخلم ؟**

که ستاسو کورس دوام ونه لري ، ستاسو د کوس چمتوکونکی کولی شي آنلاین زدکړې وړاندی کړي. یوځل چې تاسو بیا درسونه ولرئ ، تاسو نور نشئ کولی آنلاین زدکړې وکړئ.

## II. طبقه بندي ، نوم ثبتول او ثبت شوي نوم لغوکول

**۱. ایا زه کولی شم د خپل موجوده کورس چمتوکونکی سره خپل ثبت شوی نوم لغو کړم، که چیرې هلته زما کورس تر اوږدوي مودي ځنډول شوی وی، او یو بل کورس چمتوکونکي ته ځان بدل کړم؟**

هو .ستاسو پخوانی کورس چمتو کونکی باید د ګډون لپاره ستاسو مستحق کیدل بیرته ورکړي که تاسو غواړئ د ښه دلیل په اساس د کورس چمتو کونکي بدل کړئ. د ګډون د مستحق کیدو سند کې ترديې دمه محاسبه شوي درسي ساعتونه یا واحدونه (د کورس بشپړ برخي) یاداشت او لیکل کیږي. که تاسو د کورس روانه برخه بدلول غواړئ، تاسو کولی شئ د کورس دې برخي لپاره درسي ساعتونه له لاسه ورکړئ.

**۲. ایا د ازموینې او ثبت دفترونه بیرته خلاص شوي؟**

د جولای ۲۰۲۰ څخه د ازموینې او ثبت دفترونه قدم په قدم پرانیستل شول .مهرباني وکړئ په خپل مسؤل سیمه ایز دفتر کې پوښتنه وکړئ د کو وخت نه د ازموینې او ثبت دفتر ستاسو په منطقه کې بیا پرانیستلی وي.

## III. د لګښتونو سهمیه بیرته تادیه کول: د ضرب الاجل غزول

د شغل او کار په تړاو د الماني ژبې ودې او پرمختګ په اړه قانون د نهمې مادې شپږم بند(§ 9 Abs. 6 DeuFöV) پر اساس د مسلکي ژبی کورس هغه برخه وال کوم چې د لګښتنو یوه برخه پیسې ورکوی، نیمايي پیسې بیرته ترلاسه کوي، او که چیرې دوې د ګډون د مستحق کیدو سند د صادرولو وروسته په بریالیتوب سره خپل کورس د دوو کلونو دننه موده کې بشپړ کړي.

د پراخې وبا ناروغی شرایطو له امله د کورس وقفی ته یوه ځانګړې مقرره رامنځته شوی. : د ټولو هغه کسانو لپاره چې د هغوی لومړنی د ګډون مستحق کیدو سند یئ د ۱۷/۰۳/۲۰۱۸او ۳۰/۰۶/۲۰۲۱ ترمینځ صادر شوی دی ، ضرب الاجل ئی شپږ میاشتی مودې اوږد دی، یعني دوه نیم کاله .

## IV. د سفر لګښتونه

د سفر لګښتونه د ټولو پنځه موډلونو لپاره بیرته ورکول کیدي شي. د دې لپاره شرط دا دی چې تاسو د کورس په پیل کې د سفر لګښتنو د مرستې لپاره غوښتنلیک سپارلی وي او د کورس ترسره کیدو ځای کې مو د لاسلیک لیست کې لاسلیک کړی وي. دا د پلي کیدو وړ هم دی د مثال په توګه که تاسو د کورس چمتو کونکي په ځای کې په مجازی ټولګی (موډول ۲) کې ګډون وکړئ. تاسو د هغو ورځو لپاره د سفر لګښتونه ترلاسه کوی په کومو کې چې تاسو د کورس ترسره کیدو ځای کې وی او د لاسلیک یا د حاضری لیست کې لاسلیک کړی وي.

موږ خوښ یو چې د مسلکی ژبی کورسونه د ناروغۍ وبا د شرایط لاندی ترسره کیدې شي . د مهاجرت او کډوالو لپاره فدرالي اداره BAMF په دی اړوند بی شمیره انتظامات ، قواعد او مقررات نیولی دی ، څو د مسلکی ژبی کورسونو ترسره کول ممکن کړي . ستاسو کورس چمتو کونکو همدارنګه ستاسو د ښځینه او نارینه استادانو سره یو ځای ، موږ به نور هم ستاسو فعاله ملاتړ وکړو، تر څو تاسو وکولې شی په ښه ډول د مسلکی ژبی کورس بشپړ کړی او په آلمان کی د ژوند لپاره خپلې موخې ترلاسه کړئ .

موږ تاسو ته په کورس کی ښه بریا او کامیابی غواړو
!
ستاسو د مهاجرت او کډوالو لپاره فدرالي اداره BAMF